الله تبارک وتعالى فرمايي: ما خپلو نېکو بندګانو ته داسې نعمتونه تيار کړي دي چې نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د کوم انسان په زړه کې تېر شوي دی

ابو هريرة - رضي الله عنه - له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «الله تبارک وتعالى فرمايي: ما خپلو نېکو بندګانو ته داسې نعمتونه تيار کړي دي چې نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د کوم انسان په زړه کې تېر شوي دی» ابو هريره وايي: که وغواړئ دا آيت ولولئ: ترجمه: "نو چا ته نه ده معلومه چې هغوی ته د سترګو يخېدو کوم شيان پټ ساتل شوي" [السجدة سورت: ١٧ آيت].

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله تبارک وتعالى فرمايلي: ما خپلو نېکو بندګانو ته په جنت کې داسې عزت او نعمتونه تيار کړي چې نه کومو سترګو ليدلي، نه يې غوږونو وصف اورېدلی او نه يې د کوم انسان په زړه کې ماهيت تېر شوی". ابو هريره رضي الله عنه وويل: که وغواړئ، نو دا آيت ولولئ: ترجمه:(نو چا ته نه ده معلومه چې هغوی ته د سترګو يخېدو کوم شيان پټ ساتل شوي دي). [السجدة سورت: 17 آيت].

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10404